## د برخه: د مصارفاتو یا لګښتونو یادښتونه

**لومړی لوست:** په خالصو ارزښتونو، نقدي او دوران كي ارزښتونو، د عايد د حساب په صورت پوهيدل او د كمپيوټري يادښتونو حفظ يا ساتل

**وړاندیز وخت د لوست ورکولو لپاره:** ۲ساعته

**وړاندیز منابع :** لاندې منابع کیدلی شي چي ددې لوست په تدریس کولو کي ګټوری واقع شي:
د دې درسي پلان نه د استفادې په خاطر د پاورپواينټ ارايه کول هم ترتيب شوي دي. د لاندې ويب پاڼو څخه هم په دي برخه كي استفاده او ګټه اخستل کیدلی شي.

1- د مزرعې او فارم د تجارت مديريت، مولين ايلايونايز 1992
Steward, Jim, Raleigh Jobes, James Casey, and Wayne Purcell. *Farm and Ranch Business Management.* Moline, Illinois: Deere & Company, 1992. (Text and Student Manual, Chapter 2).

2- د زراعتي تعليماتو لپاره مشورتي شوراى، اليكسندر، وريجنيا 1993
*Decisions and Dollars*. Alexandria, Virginia: The Council for Agriculture Education, (Curriculum Binder, Unit II.B) .1993

3- په زراعت كي مالي مديريت،بارى، پيتر، پاول الينجر، جان هاپكن و سى بى بكر، سال تاليف 1995

Barry, Peter, Paul Ellinger, John Hopkin, and C.B. Baker. *Financial Management in Agriculture*. Danville, Illinois: Interstate Publishers, Inc., 1995. (Textbook, Chapter 3)

4- د زراعتي محصولاتو د تجارت مديريت، بازراموندنه، د انساني منابقو انكشاف، ارتباطات يا اړيكي او تكنالوژي. نويسنده ګيب سن، جيرى، سال تآسيس 2001

Gibson, Jerry D., et al. *Agribusiness Management, Marketing, Human Resources Development, Communication, and Technology*. Danville, Illinois: Interstate Publishers, Inc., 2001.

**دسامان الاتو،وسايلو او لازمو اسانتياو لړليک**

دليكلوپه خاطر سپينه ورقه يا صفحه

دپاورپواينټ پروګرام په خاطر غټ ښودونكى (پراجكتور)

دپاورپواينټ (دكمپيوټرپروګرام) صفحي

روښانه سلايدونه يا صفحي

د كاري ورقو كاپي ګاني

**اصطلاحات:**په دى درس كى لاندى اصطلاحات كارول كيږى (ذكر شوى اصطلاح ګانى دپاورپواينټ په دوهم ګڼه سلايد يا صفحه كى وړاندى شوى دى)

1- تصنيفي حساب درلودل (Accrual accounting)

2- دارائى يا شتمني (Assets)

3- نقدي حساب درلودل (Cash accounting)

4- نقدي او په دوران کي صورت حساب (Cash flow statement)

5- جاري شتمني (Current asset)

6- جاري واجب الادا پورونه یا قرضونه (Current liabilities)

7- مخارجات لګښتونه (Expenditures)

8- د لاسته رالونکی حساب صورت (Income statement)

9- واجب الادا قرضونه یا پورونه (Liabilities)

10- سوچه عاید یا لاسته راتلنه (Net income)

11- د خالص ارزښت د حساب صورت (Net worth statement)

12- غیر جاري شتمني (Non-current asset)

13- غیر جاري قرضونه یا پورونه (Non-current liabilities)

14- عاید لاسته راوړنه (Revenue)

**په زړه پوری تګلاره :** له په زړه پوري تګلاري څخه ګټه پورته کړئ ترڅو چي زده کونکي د لوست لپاره اماده کړل شي.ډیری ښوونکي د خپلو ځانګړو ټولیګیو لپاره لازمي لاري چاري او شرایط ترتیب او برابروي. په دي ځآی کي یوه ممکنه تګلاره تر استفادې لاندې نیول کیږي.
آیا زده کونکي د خپل موجوده ملکیت د شیانو ارزښت جمع کړی دی او که نه. له هغوي نه پوښتنه وکړئ چي د هغوي په مالي حالت کي څه واقع کیږي که چیري هغوي ۱۰۰ افغانی بدیهه ورکړي. ایا د هغوي ارزښت کمیږي او که زیاتیږي؟ چي د هغي خالص ارزښت په داسي حالاتو کي ښکاره کیږي. ددي لوست موخي یا هدفونه له زده کونکو سره تکرار کړئ.

**د محتویاتو لنډیز او د لوست ستراتیژي ګاني**

**لومړی موخه یا هدف -** د یوه کروندګر د تجارت لپاره د یوه خالص صورت حساب ارزښت ته انکشاف ورکړئ.

**آټکل شوي یا وړاندیز شوی ستونزه:** خالص ارزښت څه شی دی؟

( د پاورپواینټ له دریمې شمیري سلاید څخه دي استفاده صورت ونیسي)

د خالص ارزښت صورت په یوه وخت په یوه ورکړی شوي نقطه کي د یوه تجارت د مالي صحت ښکاره کولو څخه عبارت دي.

الف: د خالص ارزښت صورت حساب د یوه تجارت د تعین کونکی له توانایي څخه د قرضونو په وړاندې کولو سره د ټولې شتمنۍ له پلورلو څخه عبارت دي.

( د پاورپواینټ له څلورمي شمیري سلاید څخه دي استفاده صورت ونیسي)

شتمني د یوه تجارت له ارزښت لرونکو شیانو څخه عبارت ده.

( د پاورپواینټ له پنځمې شمیري سلاید څخه دي استفاده صورت ونیسي)

واجب الادا قرضونه یا پورونه:له اجباري قرضونو څخه عبارت دي چي د یوه کال په موده کي او له هغي نه په کمي موده کي ورکول کیږي.

شتمني او واجب الادا قرضونه یا پورونه په دو شکلونو سره مطرح کیږي ۱ - جاري ۲ - غیر جاري.

( د پاورپواینټ له شپږمي، اومي او اتمې شمیري سلایدونو څخه دي استفاده صورت ونیسي)

1- جاري شتمني: له هغو شیانو یا اقلامو څخه عبارت ده چي تر مالکیت لاندې قرار ولري او په یو کال کي تري استفاده شوي وي او یا هم نقد یوکال په موده کي راګرځي.
2- غیر جاري یا طولاني شتمني: له هغو شیانو څخه عبارت دي چي له یوکال نه په ډیر موده کي یي ګټور عمر درلودلی وي.
( د پاورپواینټ له نهم، لسم او یوولسمي شمیري سلایدونو څخه دي استفاده صورت ونیسي)
3- جاري قرضونه یا پورونه له لنډ مودتو قرضونو څخه عبارت دي او یا هغه قرضونه چي د یوه کال نه د کمي مودې لپاره اخستل شوي وي.
4- غیر جاري یا د اوږدې مودې قرضونه یا پورونه: له هغو قرضونو یا پورونو څخه عبارت دي چي له یوه کال نه وروسته ورکول کیږي.
( د پاورپواینټ له دولسمي شمیري سلاید څخه دي استفاده صورت ونیسي)
1- ټوله شتمني :عبارت ده له: جاري شتمني + غیر جاري شتمني
2- ټول قرضونه یا پورونه: عبارت دي له: جاري قرضونه + غیر جاري قرضونه
3- خالص ارزښت یا خالصه شتمني: له ټولې شتمنۍ څخه د ټولو قرضونو یا پورونو د مجموعي حاصل تفریق نه عبارت دي.

لهTM:1-1 او TM:1-2څخه استفاده وکړئ او د صورت حساب د محتویاتو د خالص ارزښت په برخه کي وینا وکړئ. او زده کونکي په دي پوه کړئ ترڅو چي WS: 1-1 تکمیل یا بشپړ کړي او خالص ارزښت تعین او وټاکي .

**دوهمه موخه یا هدف :** د زراعتي تجارت لپاره یو صورت حساب د لاسته راوړني ته انکشاف ورکړئ.
اټکل شوی یا وړاندیز شوي ستونزه: د یوې لاسته راوړني صورت حساب څه دی؟
( د پاورپواینټ له دیارلسمي شمیري سلاید څخه دي استفاده صورت ونیسي)
**II**- صورت حساب: له یوه مالي سند یا وسیلي نه عبارت دی که دیوه وخت له تیریدو نه وروسته د یوه تجارت ضرر یاګټه په نښه کوي یا ښایي.
( د پاورپواینټ له څوارلسمي شمیري سلاید څخه دي استفاده صورت ونیسي)
الف: د محاسبې د پوهیدلو لپاره په دوه ابتدایي قاعدو باندې پوهیدل ضروري دي:
1- د محاسبې د اصولو میتود: په دي معنی سره چي لاسته راوړني او لګښتونه په وخت سره پیدا کړل شي او یا د هغې ورکول ثبت شوي وي.
2- په محاسبه کي د زیاتولو یا جمع کولو میتود: په دي معني سره دی چي لاسته راوړني او لګښتونه د پیداکولو په وخت کي او یا هم د خدمتونو تحویل کول یا د تولیداتو ثبتول دي. او د محاسبې تجمع یا جمع کول همدارنګه په شتمنۍ او قرضونو کي د تغیراتو ښودونکي دي.
ب- د عایداتو د لاسته راوړني او لګښتونو د صورت حساب په یوه تجارت کي په یوه فهرست کي درج کوي.
( د پاورپواینټ له پنځلسمي شمیري سلاید څخه دي استفاده صورت ونیسي)
الف: عاید: د سرته رسیدلو خدمتونو له نقدي پیداوار نه عبارت دی، پلورل شوي تولیدات او نورو څخه.
ب: لګښتونه: د خدمتونو، وسایلو یا پیرودل شوو منابعو او نورو لپاره د پیسو له ورکولو نه عبارت دی.
ج: خالصه لاسته راوړنه:د حاصلاتو څخه د لګښتونو د تفریق څخه عبارت ده.

له **TM;1-3**څخه استفاده وکړئ د نقدي پیسو او جمع شوی حساب په برخه کي مذاکره وکړئ. اوله **TM:1-4**څخه استفاده وکړئ او د یوه عاید د صورت حساب د محتویاتو په برخه کي مذاکره وکړئ. زده کونکي په دي پوه کړئ تر څو **WS:1-2**تکمیل یا بشپړ کړي او د عاید صورت حساب تمام یا پای ته ورسوي.

**دوهمه موخه یا هدف :**دوراني صورت حساب او نقدي صورت حساب د یوه زراعتي تجارت لپاره ورته انکشاف ورکړئ.
اټکل شوی یا وړاندیز شوی ستونزه: دوراني صورت حساب یاو نقدي څه شی دی؟
( د پاورپواینټ له شپاړسمي شمیري سلاید څخه دي استفاده صورت ونیسي)
**III**- نقدي او دوراني صورت حساب:له یوه مالي راپور نه عبارت دی چي رسیدونه او لګښتونه د یوه تجارت وروسته له وخت تیریدو څخه ثبت کوي. معمولاً د یوه کال په جریان کي یعني دیوه کال کامل راپور یاد داشت کوي.
الف- دوران او نقدي حساب د یوه تجارت له دي توانایي نه عبارت دی کوم د هغې مالي ضروریات یا اړتیاوي پوره کړي.

له **TM:1-5**څخه دې استفاده صورت ونيسي ترڅو چي ددې لوست موخي يا هدفونه زده کړل شي.

**څلورمه موخه يا هدف :** د کمپيوټري يادداشتونو د ساتني زده کړه کول
آټکل شوی يا وړاندیز شوی ستونزه: په څه ډول سره ديوه تجارت يو مالک کولی شي چي کمپيوټري يادښتونه وساتي؟
( د پاورپواينټ له اولسمي شميري سلايد څخه دي استفاده صورت ونيسي)

IV- د کمپيوټري يادښتونو ساتنه د تجارت د مديرانو لپاره کولی شي چي په لاندې لارو چارو کي ګټور واقع شي.

1- د اختصاص ورکړی شوی خوراکي نظارت کول
2- په لويو تجارتونو او عادی کار او کسب کي د تغيراتو پلان
3- د محاسبوي او معلوماتي مالياتو ثبت کول
4- په بازار موندلو کي مرسته کول د توليداتو لپاره د قيمتونو د تحليل له لاري او د مارکيټ د غوښتني د ميلان په اساس
5- د کارکونکو لپاره مهال ويش
6- د مالي صورت حساب تهيه کول
7- پيګردی صورت اموال

له TM:1-6څخه دي استفاده صورت ونيسي او د کمپيوټري يادښتونو په برخه کي دي وينا وکړل شي. له يوه محاسب يا بل متخصص نه دي غوښتنه وشي ترڅو چي د کمپيوټري يادښتونو د نوعو په برخه کي له کومو څخه چي په زراعتي تجارت کي استفاده کيږي ، بحث وکړي.

**لنډيز /تکرار:**
د پاورپواينټ له ۱۸ شميري سلايد څخه د لوست د لنډيز د تکرار لپاره دي استفاده وشي ترڅو چي زده کونکي ددي لوست موخي زده کړي. له زده کونکو څخه دي وغوښتل شي ترڅو چي د هر يو لوست محتويات چي د هغې له هري موخي سره تغلق لري تشريح کړي.
**کاري طريقه يا تګلاره:**
د کاروني طريقه کولی شي چي د زده کونکو يو يا له يوه زيات فعاليتونه په برکي ونيسي. له لابراتواري ورقو څخه هم استفاده صورت نيسي. لکه.
WS:1-1 د خالص ارزښت تعين کونکي يا ټاکونکي
WS:1-2 د لاسته راوړني يا عايد د صورت حساب تماميدل

**ارزيابی:** ارزيابی  بايد د زده کونکو د لاسته راوړنو په اساس سره د لوست د موخو په برخه کي متمرکزه وي.  چي ايا زده کونکو د دي لوست موخي يا هدفونه زده کړي دي او که نه . په دي برخه کي کيدلی شي چي مختلفو تخنيکونو څخه استفاده سرته ورسيري، بيلګئيز امتحان له دي سند سره يوځآی ارايه کيري.

## نمونه ئ امتحان ته ځوابونه:

پرتله کونکی برخه:

1. C
2. K
3. G
4. A

5. E
6. J
7. H
8. I
9. B
10. D
11. F

**خالي يا د تشو ځآيونو سوالونه**

1- نقدی محاسبه
2- خالص عايد
3- لاسته راوړنه ، لګښتونه
4- محاسبوي تجمع يا زياتوالی
5- واجب الادا قرضونه يا پورونه، شتمني

**لنډ ځوابونه**

نقدي او دوراني صورت حساب کولی شي چي د مالي ضروورياتو د توانايي د ښودلو لپاره، او کريديتي معلوماتو د برابرولو لپاره او بديهي ضروورياتو د ښودلو لپاره تر استفادې لاندې ونيول شي.

**د امتحان نمونه**

په خالص ارزښت پوهیدل، نقدي دوران، لاسته راغلی صورت حساب او د کمپیوټري یادښتونو حفظ او ساتنه

نوم: ________________

بخش مقایسوی: پرتله کیدونکی برخه: هریو لغت د هغې له درست او صحیح تعریف سره مقایسه یا پرتله کړئ.

1- شتمني
2- نقدي او په دوران کي صورت حساب
3- جاري شتمني
4- جارى قرضونه يا پورونه
5- لګښتونه یا مصارفات
6- د لاسته راوړونو صورت حساب
7- خالصه لاسته راوړنه
8- د خالص ارزښت صورت حساب
9- غیر جاري قرضونه یا پورونه
10- لاسته راوړنه

------- 1- هغه شیان چي استفاده تري کړی شوي ده او د یو کال په موده کي بیرته راګرځي.
------- 2- پیداکړی شوي پیسي
------- 3- د لګښتونو یا مصرفونو منفي لاسته راوړني
------- 4- د مارکیټ ارزښت لرونکي شیان
------- 5- نقدي مصرف یا لګښت
------- 6- هغه قرضونه یا پورونه چي له یوه کاله وروسته ورکول کیږي.
------- 7- مالي اسناد چي د شتمنۍ د ملکیت د ټاکني لپاره تر استفادې لاندې نیول کیږي.
------- 8- هغه شیان چي د مارکیټ ارزښت لرونکي وي او له یو کال نه زیات تري استفاده سرته ورسیږي.
------- 9- مالي اسناد چي دیوې مودې له تیریدو نه وروسته د راتلونکو ضرورتونو یا اړتیاوو لپاره تري استفاده صورت نیسي
-------- 10- هغه قرض یا پور چي د یو کال په موده کي ورکول کیږي
-------- 11- هغه مالي اسناد چي د ګټي د تعین یا ټاکلو لپاره ورڅخه استفاده صورت نیسي.

**خانه خالي یا د تشو ځایونو سوالونه**

1________________ د مصارفاتو یا لګښتونو د ثبت لپاره او د رسیدونو د وصول په وخت او هم د تادیه کولو لپاره تري استفاده کیږي.

2________________ د ګټي یا مفاد یو بل نوم دی.

3- د لاسته راړوني د صورت حساب یو فهرست دواړه ________________ او ________________ وي.

4________________ د مصارفاتو یا لګښتونو او د هغو عایداتو ثبت کله چي واردیږي.

5- خالص ارزښت تعین کیږي په منفي کولو د ________________له ________________ څخه.

**لنډ ځوابونه**: لاندې سوالونو ته ځوابونه وواياست.

1- په څه ډول سره د یو کسب تجارت کولی شي چي له دوراني صورت حساب او نقدي څخه په خپلو تجارتي عملیاتو کي استفاده وکړي؟

## TM:1-1

### د یوه خالص ارزښت د صورت حساب محتويات

- **د خالص ارزښت صورت حساب**: په یوه وخت کي په یوه ورکړی شوی نقطه کي د یوه تجارت د مالي صحت له ښودلو نه عبارت دی.

- **شتمني**: د یوه تجارت له ارزښت لرونکو شیانو څخه عبارت دي.
- **- جاري شتنمني**:له هغو شیانو یا اقلامو څخه عبارت دي چي تر مالکیت لاندې قرار ولري او په یوه کال تري استفاده وشي او یا په نقدي توګه د یوه کال په موده کي بیرته راګرځي.
- **غیر جاری یا اوږد مهاله شتمني**: له هغو شیانو څخه عبارت دي چي له یوه کال نه په زیاتي اندازې سره ګټور عمر ولري

- **واجب الادا** قرضونه یا پورونه:له هغو اجباري قرضونو یا پورونو څخه عبارت دي د کال په یوه وخت کي او یا کم وخت کي ورکول کیږي .
- .
- **- جاري قرضونه یا پورونه:**د لنډ مهالو مودو له قرضونو یا پورونو څخه عبارت دي او یا هغه قرضووه یا پورونه دي چي د یوه کال نه د کمې مودې لپاره اخستل شوي وي.
- **غیر جاری یا اوږدمهالی قرضونه یا پورونه**: له هغو قرضونو یا پورونو څخه عبارت دي چي له یوه کال څخه وروسته ورکول کیږي.

## TM: 1-2

### د یوه خالص ارزښت د صورت حساب محتويات

- ټوله شتمني = جاري شتمني یا دارائی + غیر جاري شتمني یا دارائی

- د واجب الاد قرضونو یا پورونو مجموعه= جاري پورونه + غیر جاري پورونه

- خالص ارزښت = د شتمنۍ یا درائي مجموعه – د واجب الاد قرضونو یا پورونو مجموعه

TM: 1-3

## په محاسبه کي تجمع یا په محاسبه کي زیاتوالی

- **نقدي محاسبه: په دي معني سره چي لاسته راوړني او مصرفونه یا لګښتونه د موندنې په وخت کي او یا د هغې د ورکولو په وخت کي ثبت شوي وي.**

- **په محاسبه کي تجمع یا زیاتیدل: په دي معنی سره چي لاسته راوړني او مصرفونه یا لګښتونه د موندنې په مهال او یاهم د خدماتو او تولیداتو د تحویلۍ په موده کي ثبت شوي وي. او د محاسبې تجمع همدارنګه په شتمنۍ او قرضونو کي د تغیراتو ښودونکي وي.**

TM: 1-4

## د لاسته راتلونکی صورت حساب محتویات

- صورت حساب: له یوه مالي سند یا وسیلي نه عبارت دی چي د یوه وخت له تیریدو نه وروسته ګټه او یا هم د یوه تجارت ضرر یا تاوان ښکاره کوي.
- عاید یا لاسته راوړنه: د نقدي خدمتونو له موندنو ، پلورل شوو تولیداتو او نورو څخه عبارت دي.
- مصارف یا لګښتونه: د خدماتو، وسایلو یا اخستل شوو منابع او نورو لپاره د ورکړې شوو پیسو څخه عبارت دي.
- خالص عاید یا لاسته راوړنه: له عایداتو یا لاسته راوړنو څخه د مصارفو یا لګښتونو د حاصل تفریق نه عبارت دی.

TM: 1-5

## دوراني او نقدي صورت حساب

- دوراني او نقدي صورت حساب: له یوه مالي راپور نه عبارت دی چي رسیدونه او او د یوه تجارت مصارف یا لګښتونه د یوه وخت له

تیریدو نه وروسته ثبت کوي. معمولاً د یوه کال په جریان کي یعني د یوه کال کامل راپور یادښت کوي.

- دوران او نقدي حساب د یوه تجارت د توانایي ښودونکي وي ترڅو چي د هغې مالي ضروریات یا اړتیاوي پوره کړي.

TM: 1-6

## د کمپیوټري یادښتونو څخه استفاده کول

- د اختصاص شوی خوراکې نظارت کول
- په لویو تجارتونو او عادي کار او کسب کي د پلان تغیرات
- د محاسبوي مالیاتو او معلوماتو ثبت کول
- د مارکیټ د غوښتني له مخې او د قیمتونو د تحلیل له لاري د تولیداتو لپاره په بازار موندنه کي مرسته او کومک کول
- دکارمندانو یا کارکونکو لپاره تقسیم اوقات یا مهال ویش
- د مالي صورت حساب تهیه کول
- پیگردی صورت اموال

WS: 1-1

## د خالص ارزښت تعین کول یا ټاکل

هدف یا موخه : دخالص ارزښت تعینول د مالي معلوماتو له مخې ورکړل شوي دي

طرزالعمل یا کړنه: له لاندې ورکړل شوو معلوماتو څخه استفاده وکړئ او لاندې سوالونو ته ځوابونه وړاندې کړئ.

| | |
|---|---|
| غواګاني او غوایان | 810,225 AF |
| موازنه دارائی حقیقی رهن کردن بعداز سال جاری | 4,238,100 AFN |
| هغه غواوي چي نسل ګیري تري نه کیږي | 1,849,058 AFN |

| | |
|---|---|
| ماشين الات | 2,542,680 AFN |
| د دې کال واقعي تاديه کيدونکی شتمني يا دارائي | 678,096 AFN |
| ذخيره يا زيرمه شوي حاصلات | 623,000 AFN |
| بانکي حساب | 62,325 AFN |
| له دې کال څخه وروسته د ماشين الاتو د قرضي يا پور بيلانس | 2,278,352 AFN |
| د دې کال د ماشين الاتو د قرضي يا پور ورکول | 598,320 AFN |
| ځمکه | 13,065,065 AFN |
| مختلف لوازم | 2,126,280 AFN |
| د عملياتي قرضي يا پور ميزان | 1,121,850 AFN |
| بدهکار بودن از همسايگان برای محصول گمرکی | 49,860 AFN |

1- د جاري شتمنی يا دارائي ارزښت څه دی ؟ _______________

2- د غير جاري شتمنی يا دارائي ارزښت څه دی ؟ _______________

3- د شتمنی يا دارائي مجموعي ارزښت څه دی ؟ _______________

4- د جاري قرضونو يا پوررونو ارزښت څه دی؟ _______________

5- د غير جاري قرضونو يا پوررونو ارزښت څه دی ؟ _______________

6- دمجموعي يا ټولو قرضونو ارزښت څه دی ؟ _______________

7- د دې کروندګر لپاره خالص ارزښت څه دی؟_______________

WS KEY: 1-1

# د خالص ارزښت تعينول يا ټاکل

هدف يا موخه : دخالص ارزښت تعينول د مالي معلوماتو له مخې ورکړل شوي دي

طرزالعمل يا کړنه: له لاندې ورکړل شوو معلوماتو څخه استفاده وکړئ او لاندې سوالونو ته ځوابونه ورپاندې کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| غواګاني او غوايان | 810,225 AF | د.غ.ج |
| موازنه دارائی حقیقی رهن کردن بعداز سال جاری | 4,238,100 AFN | ق.غ.ج |
| هغه غواوې چې نسل ګيري ترې نه کيږي | 1,849,058 AFN | د.ج |
| ماشين الات | 2,542,680 AFN | د.غ.ج |
| د دې کال واقعي تاديه کيدونکی شتمني يا دارائي | 678,096 AFN | ق.ج |
| ذخيره يا زيرمه شوي حاصلات | 623,000 AFN | د.ج |
| بانکی حساب | 62,325 AFN | د.ج |
| له دې کال څخه وروسته د ماشين الاتو د قرضي يا پور بيلانس | 2,278,352 AFN | ق.غ.ج |
| د دې کال د ماشين الاتو د قرضي يا پور ورکول | 598,320 AFN | ق.ج |
| ځمکه | 13,065,065 AFN | د.غ.ج |
| مختلف لوازم | 2,126,280 AFN | د.ج |
| د عملياتي قرضي يا پور ميزان | 1,121,850 AFN | ق.ج |
| بدهکار بودن از همسايگان برای محصول گمرکی | 49,860 AFN | د.ج |

1- د جاري شتمنی يا دارائي ارزښت څه دی ؟ 4,710,523 AFN

2- د غير جاري شتمنی يا دارائي ارزښت څه دی ؟ 16,417,970 AFN

3- د شتمنی يا دارائي مجموعي ارزښت څه دی ؟ 21,128,493 AFN

4- د جاري قرضونو يا پورونو ارزښت څه دی ؟ 2,398,266 AFN

5- د غير جاري قرضونو يا پورونو ارزښت څه دی ؟ 6,516,452 AFN

6- دمجموعي يا ټولو قرضونو ارزښت څه دی ؟ 8,914,718 AFN

7- د دې کروندګر لپاره خالص ارزښت څه دی ؟ 12,213,775 AFN

WS: 1-2

# د لاسته راغلی صورت حساب تکمیل یا بشپړ کول

هدف یا موخه : دخالص ارزښت تعینول د مالي معلوماتو له مخې ورکړل شوي دي

طرزالعمل یا کړنلاره: د لاندې حالتونو لپاره خالصه لاسته راوړنه تعین کړئ، له نقدي حسابونو له قاعدې نه دي استفاده وکړل شي. د لاندې ارقامو په تشخیص سره له عایداتو او مصارفاتو یا لګښتونو څخه پیل وکړئ.

| | |
|---|---|
| د اوبو څښلو د ٤٥ لوښو پیرودل | 67,311 AFN |
| دخوراکي یا غذا پیرودل | 49,860 AFN |
| د وترنر ډاکټر بل | 7,480 AFN |
| د چاقو غواوو پلورل | 134,600 AFN |
| د تخم قیمت | 109,700 AFN |
| د درملو او سري(کود) قیمت | 224,370 AFN |
| د ماشین الاتو او لوازمو قیمت | 284,200 AFN |
| د دانه بابو پلورل | 2,564,300 AFN |
| د مالیاتو اداکول یا ورکول | 520,000 AFN |
| استهلاک | 359,000 AFN |

1- مجموعي عاید یا لاسته راوړنه څه ده ؟ ___________

2- مجموعي مصارفات یا لګښتون څه دي ؟ ___________

3- نقدي حسابات : خالص عاید یا لاسته راوړنه = ___________

WS KEY: 1-2

# د لاسته راغلی صورت حساب تکمیل یا بشپړ کول

هدف یا موخه : دخالص ارزښت تعینول د مالي معلوماتو له مخې ورکړل شوي دي

طرزالعمل یا کړنلاره: د لاندې حالتونو لپاره خالصه لاسته راوړنه تعین کړئ، له نقدي حسابونو له قاعدې نه دي استفاده وکړل شي. د لاندې ارقامو په تشخیص سره له عایداتو او مصارفاتو یا لګښتونو څخه پیل وکړئ.

| | | |
|---|---|---|
| د اوبو څښلو د ٤٥ لوښو پیرودل | 67,311 AFN | م |
| دخوراکي یا غذا پیرودل | 49,860 AFN | م |
| د وترنر ډاکټر بل | 7,480 AFN | م |
| د چاقو غواوو پلورل | 134,600 AFN | ع |
| د تخم قیمت | 109,700 AFN | م |
| د درملو او سري(کود) قیمت | 224,370 AFN | م |
| د ماشین الاتو او لوازمو قیمت | 284,200 AFN | م |
| د دانه بابو پلورل | 2,564,300 AFN | ع |
| د مالیاتو اداکول یا ورکول | 520,000 AFN | ع |
| استهلاک | 359,000 AFN | م |

1- مجموعي عاید یا لاسته راوړنه څه ده ؟ 3,218,900 AFN

2- مجموعي مصارفات یا لګښتون څه دي ؟ 1,101,921 AFN

3- نقدي حسابات : خالص عاید یا لاسته راوړنه =

2,AFSADFSFLDSFDDSFLDSSDFLGFDGFDGDF